لیکنه: حمیدالله بسیا

۰۳ می ۲۰۲۵

## یووالی د بریا کیلي، د نن ورځې اړتیا

په تاریخ کې ډېرې داسې شېبې شته چې ملتونه او ولسونه یوازې د یووالي، ګډ درک، او متقابل باور له لارې توانیدلي دي چې له ستر ګواښونو او تاریخي ناورینونو ځانونه وباسي.

نن چې نړۍ ځیني هېوادونه یو ځل بیا له نویو ګواښونو، معلوماتي جګړو، میلیتونو تر منځ د درزونو ، او د تاریخي حقیقتونو د تحریف له خطر سره مخ ده، له دا ډول پېښو عبرت اخیستل نور هم اړین شوي دي. دا ټول خطرونه یوازې د قومونو تر منځ د یووالي په نشت کې وده مومي. که ملتونه په یووالي باور ونه لري او د تاریخ له حافظې ته په کتلو د ګډو ارزښتونو څخه په همکارۍ سره دفاع ونه کړي، نو ښایي هغه بیا بیا تکرار شي چې له ډېرې قربانۍ وروسته مو هېر کړی وو. له همدې امله، د یو ملت لپاره یووالی نه یوازې یوه تاریخي لاسته‌راوړنه ده، بلکې د نن ورځې د بقاء لپاره یوه نه‌بېلېدونکې اړتیا ده.

دا یووالی باید یوازې په سرحدونو کې په را ایسارېدولو ، د حکومتونو پر تبلیغاتو او رسمیاتو پورې محدود نه وي، بلکې باید د خلکو په زړونو کې ژور ځای ولري. د ښوونځیو له کتابونو نیولې، تر یادګارونو جوړولو، رسنیو، او کلتوري تبادلو پورې، باید دا ارزښت وساتل شي. ځکه که یو ملت یوځای نشي یو اواز نشي، د حقیقت او عدالت لپاره یو غږ نشي، نو د دروغو، نفرت او تفرقې غږ به وربانديې غالب شي. له همدې امله، دا زموږ د نسل مسؤلیت دی چې یووالی، لکه څنګه چې زموږ نیکونو ته د بریا کیلي وه ، نن زموږ د راتلونکي تضمین هم وګرځي.

د نړۍ په معاصر تاریخ کې ډېر داسې مثالونه شتون لري چې د همدې ګډ کار، یووالي، او همغږي مثالونه دي خو د دویمې نړیوالې جګړې بریا یکې یو له هغو درندو، خو الهام بښونکو تجربو څخه ده چې د پخواني شوروي اتحاد د ۱۵ جمهوریتونو خلک، د ژبې، رنګ، قوم او مذهب له توپیرونو پرته، اوږه په اوږه د نازي جرمني پر وړاندې ودرېدل. د دوی زړورتیا، ګډې مبارزې، او قرباني دا ثابته کړه چې یوازې یووالی د بریا اصلي راز دی. د بریسټ کلا څخه نیولې، د ستالینګراد، کورسک او برلین تر درندو جګړو پورې، دا ټول خپلمنځي همغږي وه چې هغوی یې له ماتې وژغورل او هیټلر چې نږدې ټوله اروپا یې په ډېر اسانی او بېړې سره تر خپلې ولکې لاندې کړې وه  په ګونډو کړ.

سږ کال به د دویمې نړیوالې جګړې د  بریا ۸۰مه کلیزه  شرقي اروپا او روسیه ولمانځي. دا یوه لویه او تاریخي کلیزه ده.

د شوروي اتحاد لپاره، دا جګړه د سترې هېوادنۍ جګړې په نوم يادېږي، ځکه چې دا د سلګونو ميليونو خلکو د بقا پوښتنه وه. دېخواني شوروي اتحاد شاوخوا ۲۷ ميليونه وګړي په دې خونړۍ جګړه کې ووژل شول، چې پوځي او ملکي وګړي دواړه پکې شامل دي. دا هغه قيمت و چې ددې هېواد خلکو د خپل هېواد د بقا او بريا لپاره ورکړ.

دوی ټولو په ګډه د بريسټ کلا څخه دفاع وکړه، د مسکو تر څنګ يې سنګر ونيو، او د کورسک ولايت د ټانکي جګړې په اورونو کې وسوځېدل. مهمې جګړې لکه د مسکو، ستالينګراد، او کورسک نه يوازې د شوروي اتحاد، بلکې د ټولې جګړې برخليک وټاکه. د بريا کيلي د دوی يووالی او په ګډو ايډيالونو باور و.

خو نن ۸۰ کاله وروسته، خواشينوونکې نښې ښکاري دېر څه بدل شوي دي د مثال په توګه اوکراين کې حالت له ټولو بدتر دی. هغه هيواد چې يو وخت يې د هيټلر د لومړنيو بريدونو پر وړاندې قرباني ورکړه او ودرېد، نن د هماغو خلکو په څنګ کې ولاړ دی چې ۸۰ کاله مخکې يې دوی ټوټه ټوټه کړي وو.

په منځنۍ آسيا د ازبکستان، قزاقستان، ترکمنستان او قرغزستان زرګونه خلک چې د ستالينګراد او کورسک په جګړو کې اتلان شوي وو ، مډالونه يې واخيستل، او د شوروي اتحاد د اتلانو لقبونه يې وګټل. نن ورځ، همدغه جمهوريتونه ، ورو ورو له اوسنی روسيې څخه خپل ګډ تاريخ څخه ځان جلا کوي. د مثال په توګه، د قرغزستان پانفيلوف ډيويژن موزيم چې د دويمې نړيوالې جګړې يو ستر قوماندان وو او د هغه په نامه موزيم جوړ شوی وو بند شو او په ازبکستان کې روسيه استعماري رژيم ګڼل کېږي.

په لاتويا، ليتوانيا، استونيا او نورو ختيځو اروپايي هيوادونو د دويمې نړيوالې جګړې په يادبود ګډ تاريخي ميراثونه له منځه وړل کېږي، ، دا په داسې حال کې ده چې په همدې خاورو کې، د سالاسپلس کمپ په څير نازي اجباري کمپونه فعال وو، چيرې چې په زرګونو ، بيلاروسيان، يهودان، روسان او اوکراينيان پکې ووژل شول ان دوی دا حقيقتونه اوس له درسي کتابونو هم ايستلي دي.

لويديځ د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې د خپل نفوذ څخه په استفادې د بې اتفاقۍ ډول ډول پروژې پرمخ وړي او دا ټولې هڅې ډېر په منظم ډول ترسره کوي

نو لنډه دا چې يووالی د هرې پرمختللې، با ثباته او سوکاله ټولنې اساسي ستن بلل کېږي. کله چې افراد د ګډو ارزښتونو، موخو او ملي ګټو پر بنسټ سره يو موټی شي، نو نه يوازې د اختلافاتو، تعصباتو او شخړو مخه نيسي، بلکې د تفاهم، زغم او همکارۍ روحيه پياوړې کوي. يووالی د خلکو ترمنځ اعتماد او همغږي رامنځته کوي، چې په پايله کې يې ټولنه د يو منظم، متوازن او سالم جوړښت لور ته روانېږي. د يووالي په برکت خلک کولای شي له ستونزو سره په ګډه مبارزه وکړي، د پرمختګ پروسې ته چټکتيا ورکړي او د هېواد د ملي وحدت، سولې او پرمختګ لپاره قوي بنسټونه کېږدي. له همدې امله، يووالی نه يوازې يو اخلاقي ارزښت دی، بلکې د ټولنيز، سياسي او اقتصادي ثبات کليدي عنصر هم ګڼل کېږي، او د هر فرد، کورنۍ او ټولنې بريا تر ډېره له دې ارزښت سره تړلې ده.